# د مسلمان په ژوند کې د عبادتونو اغېزې

# د مسلمان په ژوند

# کي

# د عبادتاتو ښې پايلي


**ليکوال:** عبد المحسن عباد البدر

**ژباړه:** شکرالله رسولي


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

| صفحه | د مطالبو نوملړ | عنوان |
|---|---|---|


عبادت څه ته وائي ؟: .................... 4
د عبادت د قبلیدو دوه شرطونه: .................... 5
د بدعت بدي: .................... 6
صحیح ایمان او تقوا د ښه ژوند دوه اسباب : .................... 9
د استغفار د ویلو فایدې: .................... 12
د مسلمان په ژوند کي د صالح عمل فایدې : .................... 13
د مسلمان په ژوند کي د لمانځه غوري پایلي : .................... 15
د مسلمان په ژوند کي د زکاة ورکولو ګټې : .................... 16
د مسلمان په ژوند کي د روژې نیولو ښې پایلي : .................... 17
د حج فریضه د مسلمان په ژوند کي : .................... 18

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيِّئات أعمالنا، مَن يهده الله فلا مُضلَّ له، ومَن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، أرسله بالهدى ودين الحقِّ ليُظهره على الدِّين كلِّه، فبلَّغ الرسالةَ وأدَّى الأمانةَ، ونصحَ الأمَّةَ، اللَّهم صل وسلم وبارك عليه، وعلى آله وأصحابه، ومَن سلك سبيلَه واهتدى بهديه إلى يوم الدِّين.

## عبادت څه ته وائي؟:

عبادت يو جامع نوم دی، هر هغه څه ته شامل دی چي الله تعالی يې خوښوي او ورباندي راضي کيږي که هغه ظاهري او باطني اقوال وي او که اعمال، عبادت د لوی اهميت څخه برخمن دی، د همدې موخي لپاره الله تعالی مخلوق پيدا کړ، رسولان يې ورته راولیږل، تر ټو د الله تعالی په عبادت يې امر کړئ او د غيرالله د عبادت څخه يې رامنع کړي، الله سبحانه و تعالی فرمايلي دي: {وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنْسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ}. (الذاريات:٥٦).

ژباړه: ما پيريان او انسانان زما د عبادت پرته د بل څه لپاره نه دي پيدا کړي.

يعني الله تعالی دوی د دې لپاره پيدا کړي دي چي پخپل عبادت امر ورته وکړي او د نافرمانۍ څخه يې را منع کړي.

الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي: {وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولاً أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ}. (النحل:٣٦).

ژباړه: موږ په هر امت کي يو پيغمبر ليږلی، او د هغه په وسيله مو ټول خبر کړل چي: د الله بندګي وکړئ او د طاغوت له بندګۍ څخه ځان وژغورئ.

او الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي: {وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ}. (الانبياء:٢٥).

ژباړه: موږ چي ستا څخه مخکي هر پيغمبر لېږلی دی، هغه ته مو همدغه وحيي کړې ده، چي زما څخه پرته بل اله (د عبادت لايق) نسته، نو تاسي همدا زما بندګي وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبادت ډېر اقسام او برخي لري؛ لکه ویره، امید ،توکل،مینه،انابت،غیبي کومک غوښتل، د کومک لپاره فریاد، قرباني، نذر او داسي نور د عبادت مختلف ډولونه. همدا ډول د عبادت له جملې څخه؛ د اسلام پنځه ارکان دي چي د جبرائیل علیه السلام په مشهور حدیث کي بیان سوي دي، کله چي یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د اسلام په اړه پوښتنه وکړه نو نبي علیه الصلاة والسلام ورته وویل: (أشهد أن لا إله إلا الله و أشهد أن محمداً رسول الله) دا چي ته دا ګواهي ورکړې چي د الله تعالی څخه ماسیوا بل څوک د عبادت لایق نسته، او محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی استازی دی، او لمونځ وکړې، زکات اداء کړې، د رمضان د میاشتي روژه ونیسې، او که دي توان او طاقت وي نو د بیت الله حج وکړې. (رواه مسلم، کتاب الایمان).

## د عبادت د قبلیدو دوه شرطونه:

عبادت هغه وخت قبلیږي چي دوه شرطه پکښي نغښتي وي، **اول: اخلاص:** یعني عمل باید خاص د الله تعالی د رضاء او یوازي باید د الله تعالی لپاره وي، **دوهم:** په عمل کي باید یوازي د نبي علیه الصلاة والسلام اتباع او پیروي وي، په عمل کي باید خامخا اخلاص موجود وي، یعني یوازي به دا عمل د الله رضاء لپاره وي د بل چا رضاء به پدې عمل کي شریکه نه وي، ځکه چي د عبادت یوه زره هم د الله تعالی ماسیوا د بل چا لپاره نه کیږي.

دشهادتینو یعني د (أشهد أن لا إله إلا الله و أشهد أن محمداً رسول الله) د ویلو غوښتنه او مقصد دادی؛ چي عبادت به یوازي د الله تعالی لپاره خاص وي او یوازي به د رسول الله صلی الله علیه وسلم متابعت او پیروي پکښي نغښتې وي ، عبادت هغه وخت عبادت شمېرل کیږي چي د الله عزوجل د را استول سوي پیغمبر صلی الله علیه وسلم په طریقه برابر وي.

د (أشهد أن لا إله إلا الله) یعني ( زه پدې شاهدي اداء کوم چي نسته لایق د عبادت مګر یو الله دی) د همدې کلمې د ویلو مقصد او غوښتنه داده چي د هر ډول عبادت لایق او مستحق د الله عزوجل څخه پرته بل څوک نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بدعت بدي:

او د شهادت دوهمه برخه (أشهد أن محمداً رسول الله) يعني (زه په دې خبرې شاهدي ورکوم چي محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی رېښتنی استازی دی)، دا غوښتنه کوي چي هر عبادت بايد د همدې استازي او رسول په طريقه وي.

نو عبادت بايد په هغه طريقه ترسره نسي چي الله تعالی نازله کړې نه وي لکه په بدعتي طريقې سره عبادت کول يا په دين کي نوي کارونه ايجادول، بلکه عبادت بايد د سنت موافق وي، نو خلاصه خبره داده چي د (أشهد أن لا إله إلا الله) غوښتنه داده چي هر عبادت بايد يوازي او يوازي د الله تعالی لپاره وي، او د (أشهد أنّ محمداً رسول) غوښتنه داده چي هر عبادت بايد د همدې رسول په طريقه برابر ترسره سي.

خو کله چي يو له دې دوو شرطو څخه موجود نه وي، يا اخلاص موجود نه وي يا د رسول صلی الله علیه وسلم په طريقه نه وي، يا دواړه نه وي، نو پداسي حال کښي همدا عمل خپله پر عمل کونکي باندي رد دی، او د الله تعالی په نزد قبول نه دی، الله تعالی فرمايلي دي: {وَقَدِمْنَا إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُوراً}. (الفرقان:۲۳).

ژباړه: او هر څه چي د هغو کړه وړه دي موږ به هغه را واخلو، د دوړي په څير به يې والوزوو.

د اخلاص د نه شتون له کبله عمل رديږي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه عمل په اړه فرمايلي دی چي پر بدعت بناء وي: (مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ، فَهُوَ رَدٌّ)(چا که زموږ په دې دين کښي داسي عمل ترسره کړ چي په دين کښي نهٔ نو هغه رد او مردود دی).

(صحيح البخاري،: بَابُ إِذَا اصْطَلَحُوا عَلَى صُلْحِ جَوْرٍ فَالصُّلْحُ مَرْدُودٌ ، سنن ابي داود:باب في لزوم السنة).

په صحيح مسلم کي بل روايت داسي راغلی دی: (مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ) (چا که يو عمل ترسره کړ او پر هغه زموږ حکم نهٔ نو هغه عمل رد دی). يعني نه قبليږي.

(صحيح مسلم: بَابُ نَقْضِ الْأَحْكَامِ الْبَاطِلَةِ، وَرَدِّ مُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا شان رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: (فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِي فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الْمَهْدِيِّينَ الرَّاشِدِينَ، تَمَسَّكُوا بِهَا وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ، وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ، فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ).(سنن ابي داود: بَابٌ فِي لُزُومِ السُّنَّةِ ، و صححه الالباني.)•

ژباړه: (يقيناً څوک چي زما څخه وروسته ژوندی وي نو ژر دی چي ډېر اختلاف به ويني، نو پر تاسو دا لازمي ده چي زما سنت عملي کړئ او د خلفاء مهدينو او راشدينو سنت عملي کړئ، پدې سنتو باندي منګولي ټينګي کړئ او نواجذ غاښونه ورباندي راتاو کړئ، ځانونه په دين کي د نو کارو څخه وساتئ، يقيناً هر نوی کار په دين کي بدعت دی، او هر بدعت ګمراهي ده).

او نبي عليه الصلاة والسلام د(۷۳) درو اويا ډلو په حديث کي دا خبره څرګنده کړې ده چي دوو اويا ډلې به جهنم ته ننوزي او يوه ډله به نجات او خلاصون پيدا کوي، او رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره هم بيان کړې ده چي هغه ډله چي د اور څخه به نجات پيدا کوي هغه فرقه به ناجيه وي، او دا هغه کسان دي چي د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين پر لار روان وي.

امام مالک بن انس رحمة الله عليه فرمايلي دي: ددې امت اخير به په هغه څه اصلاح کيږي په کوم څه چي مخکني خلک اصلاح سوي وه، او بيا فرمايي: چا که په اسلام کي يو داسي عمل ايجاد کړ چي په اسلام کي يې دليل موجود نه ؤ او ده همدا نوی کار ښه ګڼی نو په حقيقت کي ده پر نبي عليه الصلاة والسلام باندي د خيانت ګمان وکړ. الله تعالی فرمايي: {الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ}.(المائده:۳).

ژباړه: نن مي تاسو ته ستاسو دين مکمل کړ.

که په هغه ورځ يو کار دين نه ؤ نو نن ورځ هم دين نه ګڼل کيږي. (الاعتصام د شاطبي: ج۱/ص۲۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازي د نيت او ارادې په صفا والي باندي عمل نه قبليږي، تر څو چي دليل ورباندي موجود نه وي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوه صحابي وويل: (فَإِنِّي نَسَكْتُ شَاتِي قَبْلَ الصَّلَاةِ، قَالَ: «شَاتُكَ شَاةُ لَحْمٍ). (صحيح البخاري: بَابُ الأَكْلِ يَوْمَ النَّحْرِ).

ژباړه: ما د اختر د لمانځه مخکي قرباني وکړه، نو نبي عليه الصلاة والسلام ورته وويل: ستا پسه د غوښو پرته د بل څه لپاره نه دی). يعني دا قرباني نه ده، ځکه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د طريقې او سنت خلاف ده، سنت دا دی چي لمړی د اختر لمونځ ترسره سي بيا قرباني وکړل سي، نو د لمانځه مخکي قرباني معتبره نه ده.

حافظ ابن حجر عسقلاني په فتح الباري د بخاري په شرح کي فرمايې: شيخ ابومحمد بن ابي جمره فرمايلي دي: ددې حديث څخه دا خبره معلومه سوه چي که عمل د ښه او صفا نيت موافق هم وي خو چي د شريعت مخالف وي بيا هم نه صحيح کيږي. عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ريښتني ملګری دا سي مسجد ته داخل سو چي خلګو په مسجد کي حلقه جوړه کړې وه، او د هر يوه سره يو څه کوچنۍ ډبري وي، په دوی کي يو سړي وويل: سل واره (سبحان الله) واياست، سل واره (لااله الاالله) واياست، سل واره (الله اکبر) واياست، يعني د ډبرو په شمېرولو سره يې عبادت او ذکر کاوه، تر څو چي عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د دوی سر ته ودرېدی او وې ويل: دا تاسو څه کوئ؟، دوی وويل: اې د عبدالرحمن پلاره! د ډبرو په شمار سره (الله اکبر، لا اله الا الله او سبحان الله) وايو، ده ورته وويل: خپل ګناهونه وشمارئ زه ستاسو لپاره ضامن يم چي ستاسو نيکياني به ضايع نسي، هلاکت دی، اې د محمد (صلى الله عليه وسلم) امته! تاسو څومره پر خپل هلاکت تيزي کوی! دغه ستاسو د نبي صلى الله عليه وسلم ملګري په ګڼ شمار ژوندي دي، او تر اوسه د رسول الله صلى الله عليه وسلم کالي لا نه دي زاړه سوي، لوښي يې نه دي مات سوي، زما دي قسم په هغه رب وي چي زما نفس يې په لاس کي دی، تاسو د هدايت څخه په ډک ملت باندي ياست، او يا دا چي د ګمراهۍ د دروازې خلاصونکي ياست؟! دوی وويل: په الله تعالى قسم اې د عبدالرحمن پلاره ! موږ د خير پرته بله اراده نه لرل، عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه ورته وويل: ډېرو د خير اراده کونکو ته به خير هيڅکله و نه رسيږي. (الدارمي: بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ أَخْذِ الرَّأْيِ وصححه الالباني).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## صحیح ایمان او تقوا د ښه ژوند دوه اسباب :

په عبادت کي د سيني خلاصوالی، د حالت ښه والی، د رزق پراخي، سلامتي، راحت او اطمينان او داسي نوري بې شماره ښې پايلي او تاثيرات نغښتي دي.

په زياتو قرآني اياتو او نبوي احاديثو کي د عبادت د کولو تاثيرات او ښې نتيجې رانقل سوي دي، ځکه تقوا او صالح اعمال د دنيا او اخيرت سعادت او خوشبختي ده.

الله تعالی فرمايې: {وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ}. (الاعراف:۹۶).

ژباړه: که د سيمو خلکو ايمان راوړی وای او د پرهيزګاری کړنلاره يې غوره کړې وای، نو موږ به پر هغو د اسمان او ځمکي د برکتونو دروازې پرانيستي وای.

دا ايت د عبادت پر ګټورو او ښو پايلو مشتمل دی، يعني چا که تقوا کول او پر الله تعالی يې ايمان راوړ، نو الله تعالی به ده ته ثابت قدمي ورکړي، په دنيا کي به حلال رزق ورکړي، د اسمان او مځکي برکتونه به ورباندي را خلاص کړي، د اسمانه به باران را نازل کړي، او د مځکي به نباتات او مختلفي خزاني را وباسي.

الله تعالی د اهل کتابو په اړه فرمايې: {وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ}. (المائده:۶۶)

ژباړه: کچيري دوی تورات او انجيل او هغه څه چي دوی ته نازل سوي دي نافذ کړي وای، چي د دوی د رب له لوري ورته ليږل شوي وه، نو د دوی لپاره به له پاسه روزي اوريدله او له لاندي به راخوټيدله.

يعني هغه رزقونه چي الله تعالی يې د اسمانه د باران په سبب راليږي، او د ځمکي څخه نبات او کښتونه را زرغونوي، همداسي د مځکي څخه خزاني هم راباسي دا هر څه هغه وخت کيدای سوای چي اهل کتابو الهي کلام تطبيق او عملي کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې دوو اياتونو کي الله تعالی د کليو د اوسيدونکو او د اهل کتابو د ايمان او تقوا يادونه وکړه، چي په دنيا کي به سعادت او پراخ ژوند ورکړي، مګر اخروي ثواب او اجر د متقي مؤمنانو لپاره دی، الله تعالی په قرانکريم کي فرمايلي دي: {وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْكِتَابِ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأَدْخَلْنَاهُمْ جَنَّاتِ النَّعِيمِ}. (المائده:۶۵).

ژباړه: که دغو اهل کتابو ايمان راوړی وای او له الله تعالی څخه يې وېره کړې وای؛ نو موږ به د دوی ګناهونه ور رژولي وای او دوی به مو له نعمتونو څخه ډکو جنتونو ته ننيستلي وای.

په بل ايت کي الله تعالی فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيداً}. (الاحزاب:۷۰).

ژباړه: اې مؤمنانو ! د الله څخه و وېرېږئ او سيده خبره کوئ.

تقوا ،حقه او مسقيمه وينا هغه لوی عبادت دی چي تر سره کونکو ته يې الله تعالی دوه غوره او لوی نعمتونه ورکوي، لکه څنګه چي الله تعالی فرمايي: {يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزاً عَظِيماً}. (الاحزاب:۷۱).

الله تعالی به ستاسو عملونه سم کړي او ستاسو ګناهونه به معاف کړي هر څوک چي د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي هغه په لوې کاميابۍ سره کامياب سو.

د عملونو اصلاح کول او د ګناهونو معافول هغه لوی او ستري پايلي دي چي الله تعالی يې و مسلمانانو ته د عبادت له کبله په دنيا او اخرت کي ورکوي.

الله تعالی فرمايي: {مَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجاً وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لا يَحْتَسِبُ}. (الطلاق:۲-۳).

ژباړه: چا که د الله تعالی څخه وېره وکړه، الله تعالی به د هغه لپاره له ستونزو څخه د وتلو کومه لاره پيدا کړي، او هغه ته به له داسي لاري څخه روزي ورکړي، چي هغه لوري ته يې ګومان هم نه وي.

ددې ايت څخه معلومه سوه چي تقوا او پرهيزګاري د الله تعالی عبادت او طاعت ته وايې، يعني کله چي يې امرونه پرځای سي او د نواهيو څخه يې پرهيز وکړل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تقوا ثمره او پایله داده چي الله تعالى به دده هر ډول ستونزي حل کړي، کړاونه به يې سپک کړي، او بې ګمانه او بې فکره به حلال رزق ورکړي.
او په بل ایت کي فرمايي: {وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْراً}. (الطلاق:۴).

ژباړه: څوک چي د الله څخه وویریږي، الله عزوجل يې په کار کي اسانتیا پیدا کوي.

د تقوا له فایدو څخه دا هم ده چي الله تعالى و مؤمن مسلمان ته کارونه اسانوي، د خیر دروازي ورباندي را خلاصوي، د دنیا او اخرت د سعادت او نیکبختۍ لاري به ورته را پرانیسي.

په بل ایت کي الله تعالى فرمايي: {وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْراً}. (الطلاق:۵)

ژباړه: څوک چي د الله عزوجل څخه وویریږي، الله تعالى به د هغه ګناهونه ور معاف کړي او لوی اجر به ورکړي.

او الله تعالى فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَاناً وَيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ}.(الانفال:۲۹).

ژباړه: اې مؤمنانو! که تاسو له الله تعالى څخه وویریږئ، نو الله تعالى به تاسي ته فرقان در په برخه کړي (چي د حق او باطل تر منځ توپیر وکړئ.) او ستاسو ګناهونه به معاف کړئ او تاسو ته به بخښنه وکړي. الله تعالى لوی فضل کونکی دی.

لدې ایت څخه په واضحه ډول معلومه سوه؛ چاچي تقوا وکړه یعني د الله تعالى څخه په پټه او ښکاره وویریدی نو الله تعالى به د حق او باطل تر منځ د فرق کولو ځواک او مَلَکه ورکړي، په دنیا کي به پر هدایت وي او په پوهي او بصیرت به ژوند تیروي، په اخرت کي به يې الله تعالى ګناهونه معاف کړي.

او د ایت دَین په اخیر کي فرمايي: {وَاتَّقُوا اللَّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ}. (البقره:۲۸۲).

ژباړه: د الله تعالى څخه وویریږئ الله تعالى تاسو ته د عمل سمه لار درښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د استغفار د ويلو فايدې:

الله تعالی د نوح علیه السلام او د هغه د قوم داسې حکايت کوي: {قُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً يُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً}. (نوح:۱۰-۱۲).

ژباړه: ماوويل: له خپل رب څخه بخښنه وغواړئ، بېشکه چي هغه ډېر زيات بخښونکی دی؛ هغه به پر تاسو له اسمانه ښه اورښتونه وکړي؛ تاسو ته به مالونه او اولادونه در په برخه کړي، ستاسو لپاره به باغونه پيدا کړي او ستاسو لپاره به ويالې وبهوي.

دا د عبادت پايلي او نتايج دي، پدې ايت کښې عبادت يعنې د بخښنې غوښتلو په سبب الله تعالی په شېلو شېلو بارانونه کوي، بخښنه غوښتونکو ته مالونه او اولادونه ورکوي، باغونه او د اوبو پراخي ور نصيب کوي.

همدارنګه الله تعالی د نبي عليه الصلاة والسلام او د هغه د قوم حکايت داسې رانقلوي: {وَأَنِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَتَاعاً حَسَناً إِلَى أَجَلٍ مُسَمّىً وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهُ}.(هود:۳).

ژباړه: او که تاسو له خپل رب عزوجل څخه بخښنه وغواړئ او د هغه لوري ته را وګرځئ، نو هغه به تر يوې ټاکلې مودې پوري تاسو ته د ژوند ښه وسايل درکړي؛ او هر د فضل خاوند ته به د هغه فضل ورکړي.

ددې اياتونه په څير الله تعالی د هود عليه السلام او د هغه د قوم حکايت هم رانقلوي او فرمايلي يې دي: {وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى قُوَّتِكُمْ}.(هود:۵۲).

ژباړه: او اې زما قومه! له خپل رب څخه بخښنه وغواړئ، بيا د هغه لوري ته رجوع وکړي، هغه به پر تاسو له اسمانه ښه اورښتونه وکړي، او ستاسو پر اوسني قوت سربيره به نور قوت درزيات کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مسلمان په ژوند کي د صالح عمل فايدې:

همدا شان الله تعالی فرمايي: {مَنْ عَمِلَ صَالِحاً مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ}. (النحل:۹۷).

ژباړه: هر څوک چي ښه عمل وکړي که هغه نارينه وي او که ښځه، په دې شرط چي مؤمن وي، هغه ته به موږ خامخا په دنيا کي پاک ژوند ورکړو او ( په اخرت کښي به) دغسي خلکو ته خامخا د هغو اجر له ډېرو ښو عملونو سره سم ورکړو.

د دې ايت څخه دا خبره څرګنده سوه؛ چي د ايمان او نيک عمل په سبب الله تعالی و انسان ته پاک او نيکبخته ژوند ورکوي، دا سي ژوند چي د الله تعالی پر ويره او د رسول صلی الله عليه وسلم پر اطاعت ولاړ وي.

همدا رنګه په نبوي احاديثو کي د عباداتو ښې پايلي او ښه تاثيرات را نقل سوي دي، نبي عليه الصلاة والسلام و عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما ته په قيمتي وصيت کي فرمايي:( احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ).(الترمذي).

ژباړه: (د الله تعالی د دين او احکامو ساتنه په دعوت او عمل سره وکړه الله تعالی به ستا ساتنه وکړي، د الله تعالی احکام عملي کړه نو الله تعالی به خپل مخ ته ووينې. (الترمذي).

په مسند احمد کي روايت دی رسول الله صلی عليه وسلم فرمايلي دي: (احْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ أَمَامَكَ، تَعَرَّفْ إِلَيْهِ فِي الرَّخَاءِ، يَعْرِفْكَ فِي الشِّدَّةِ).

ژباړه: (د الله تعالی د دين او احکامو ساتنه په دعوت او عمل سره وکړه الله تعالی به ستا ساتنه وکړي، د الله تعالی احکام عملي کړه نو الله تعالی به (د خپلي مرستي لپاره) خپل مخ ته ووينې، د اسانۍ په حالت کي د الله تعالی احکام عملي کړه نو الله تعالی به په سختۍ کي ستا کومک وکړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا حدیث امام نووي پخپل کتاب اربعین کي په نونسم شمېره رانقل کړی دی، او د نووي په شرح کي ابن رجب رحمة الله علیه ددې حدیث څخه قیمتي معناګاني را ایستلي دي او فرمایلي دي: کله چي الله تعالی د خپل بنده حفاظت کوي نو دوه ډوله حفاظت یې کوی:

**لمړی:** د بدن، مال، اولاد او کورنۍ حفاظت یې کوي.

**دوهم:** د دینداری حفاظت یې کوي، یعني له ګمراه کونکو شبهاتو او ناروا خواهشاتو څخه یې ساتي چي له امله به په دین او دنیا کي پوره استقامت ترلاسه کړي، نو چا که د الله تعالی احکام عملي کړل او تر حدود یې تجاوز ونه کړ نو الله تعالی د هغه حفاظت کوي، نو د الله تعالی بنده د هغه د حدودو ساتنه کوي امرونه یې عملي کوي او د منع سو شیانو څخه یې ځان ساتي.

د نبي علیه الصلاة والسلام دا قول: (يَحْفَظْكَ). یعني (الله تعالی به ستا ساتنه وکړي) دا د عمل جزاء ده، او د صالح عمل ښه پایله او نتیجه ده، همدا د عمل مطابق جزاء ده، او نبي علیه الصلاة والسلام دا قول چي فرمایلي یې دي: (احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ أَمَامَكَ). یعني (د الله تعالی د حدودو ساتنه وکړه الله تعالی به (د خپلي مرستي لپاره) خپل مخ ته وویني، یعني: الله تعالی به په تا باندي احاطه وکړي او ستا رعایت به وکړي، او د هر ډول بدی څخه به ستا ساتنه وکړي.

همدا ډول د نبي علیه الصلاة والسلام دا قول: (تَعَرَّفْ إِلَيْهِ فِي الرَّخَاءِ، يَعْرِفْكَ فِي الشِّدَّةِ).(د اسانی په حالت کي د الله تعالی احکام عملي کړه، نو الله تعالی به په سختی کي ستا کومک وکړي) یعني: کله چي ته د الله عزوجل او د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت د پراخی او اسانی په حالت کي وکړې او نافرماني یې نه کوي نو الله تعالی به د همدې عمل په اساس تاته اجر او ثواب درکړي او په سختی کي به دي یوازي نه پرېږدي.

ددې خبري د لا روښانتیا لپاره د هغو درو کسانو قصه رانقلوو چي د باران له امله یې په غره کښي یوه غار ته پناه وړې وه، غار ته په داخلیدو سره یوه لویه ډبره را ایله سول او د غار خوله یې بنده کړل چي له امله یې دې درو کسانو د راوتلو وس نه درلود، نو په غار کي په داسي حال کي پاته سول چي په ژوندون یې د ځانو لپاره قبر جوړ کړ، په خپلو مابینځو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې سره وويل چې ددې سختۍ څخه به يوازې په هغو اعمالو خلاصون پيدا کوو چې د پراخۍ او اسانۍ په وخت کې مو ترسره کړي دي، نو هر يوه خپل اعمال الله تعالی ته وسيله کړل، يوه يې د مور او پلار سره نيکه رويه او سلوک و الله تعالی ته وسيله کړل، بل يې د الله تعالی د ويرې د زنا پرېښول و الله تعالی ته وسيله کړ، او دريم يې د مزدور د حق ساتنه او په هغه کښې زياتوب و الله تعالی ته وسيله کړل، نو ټولو هغه اعمال الله تعالی ته وسيله کړل چې د اسانۍ او پراخۍ په حالت کې يې ترسره کړي وه، نو الله تعالی دا لو ډبره ايسته کړل او دوی لدې غار څخه راووتل او خلاصون يې پيدا کړ.(دا قصه په صحيح البخاري او صحيح مسلم کې رانقل سوې ده).

همدا شان لمونځ، زکاة، روژه او حج ترسره کول د مسلمان په ژوند کې ښه اغيزې او نتيجې لري.

## د مسلمان په ژوند کې د لمانځه غوري پايلي:

لمونځ د اسلام ستن (يا د ملا د تير حثيت لري)، دا هغه عبادت دی چې د فحشاء او منکر څخه مسلمان راګرځوي، دا عبادت د بنده او الله ترمنځ يوه ټينګه او مضبوطه رابطه ده، کله چې يو مسلمان خپل لمنځونه په مسجد کې د نورو مسلمانانو سره کوي نو پدې سره دده اړيکه د الله تعالی سر نوره هم قوي کيږي، په دې عمل سره دده اړيکه شپه او ورځ د الله تعالی سره دايمي او ابدي پاتيږي.

د الله عزوجل لپاره پنځه وخته فرض لمونځ او نور نوافل اداء کول انسان له فحشاء او منکر څخه ليري ساتي، کله چې يو انسان د يو منکر کار هوډ وکړي نو لمونځ ياد کړي او د ځان څخه پوښتنه کوي چې لمونځ د څه لپاره کوي؟ او ولي پر لمانځه دومره ټينګ دی؟ نو خپله خپل نفس ته ځواب ورکوي او وايي: ځکه لمونځ کوي چې د الله تعالی څخه د ثواب او اجر اميد او د عذاب څخه يې ويره لري، ځکه دا لمونځ دی چې انسان له فحشاء او منکر څخه راګرځوي، نو د لمانځه په سبب به د فحشاء او منکر څخه ليري وي.

الله تعالی فرمايلي دي: {وَأَقِمِ الصَّلاةَ إِنَّ الصَّلاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ}.(العنکبوت:۴۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: او لمونځ قايم کړه، په باوري ډول لمونځ له بدلمنۍ او ناوړو چارو څخه منع کوي.

## د مسلمان په ژوند کي د زکاة ورکولو ګټې:

همدارنګه زکاة ورکول هم له ډيرو اغيزناکو او عظيمو فوايدو څخه برخمن دی، د زکاة په ورکولو سره د مسلمان نفس د زړه د تنګۍ او بخل څخه ساتي، مال پاکيږي نمو او ډيربښت کوي، همدارنګه د زکاة په ورکولو سره که چيري خانان خپل زکاتونه و فقيرانو ته ورکړي نو د دې الهي حکم په ترسره کولو سره به فقيران ماړه او بي حاجته سي، چي د دېته په عربي کي (التکافل الاجتماعي) وايې.

د معاذ بن جبل رضي الله عنه په حديث کي راغلي دي، چي رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: (که چيري دې خلګو (يعني اهل کتابو) د لمانځه حکم ومانه، نو دوی ته خبر ورکړه چي الله تعالی د دوی په اموالو کي زکاة فرض کړی دی، چي د دوی د خانانو څخه به اخيستل کيږي او د دوی پر فقيرانو به تقسيميږي.

د زکاة په ورکړه کښي خپله خانانو ته هم لويه ګټه رسيږي ځکه د زکاة په ورکړي سره نفسونه پاکيږي، په مال کښي يې نمو او ډيربښت راځي، د مسلمانانو سره په مرسته او کومک سره ثواب ورکول کيږي، او الله تعالی د زکاة حکم پداسي ډول فرض کړی دی چي فقير او غني دواړو ته په يو وخت کي ګټه رسيږي، زکاة د مال هغه لږ برخه ده چي حاجتمند ته يې ورباندي فضيلت ورکړی دی او د مال لږ برخه يې پر غني يا خان فرض کړی دی.

مسکينانو ته په زکات او د صدقاتو په ورکولو باندي ښه اثار او ګټوري پايلي مرتبي دي، په صحيح مسلم کي د ابوهريره رضي الله عنه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: يو وخت يو سړی په يوه دښته کي روان ؤ چي نابيره يې د وريځي له طرفه اواز واوريدی: چي د فلاني باغچه اوبه کړه، نو وريځ روانه سوه او پر يوې توري ډبريني ځمکي يې باران وکړ، تر څو يو خوړ د اوبو ډک سو، نو دې سړي دا اوبه تعقيب کړي، تر څو يو داسي سړي ته ورسيد چي په باغ کي يې اوبه په بيلچه بيلولې، ده ورته وويل: اې! د الله بنده ستا نوم څه دی؟ هغه ورته وويل: فلانی، ده د ځان سره وويل: دا خو هغه نوم دی چي ما له وريځي څخه واوريدی، هغه ورته وويل: د اې د الله بنده! ولي زما څخه پوښتنه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ورته وويل: ما يو اواز له وريځې له طرفه واوريدى، د هغه چا نوم مي واريدى چي ددې اوبو خاوند دى، او ويل ئې: د فلاني باغ اوبه کړه يعني ستا نوم يې ياداوه، نو ته پدې باغ کي څه کوې؟ هغه سړي ورته وويل: دا چي تا دا خبره وکړه، نو زه ددې باغ په حاصلاتو کښې فکر کوم، درې برخي يې کوم، يوه برخه يې خيراتوم، دوهمه برخه زه او زما عيال خورو، او پاته برخه يې دوباره په باغ کي لګوم. په بل روايت کي راځي چي دريمه برخه يې مسکينانو ،سوالګرو او مسافرو ته ورکوم.

## د مسلمان په ژوند کي د روژې نيولو ښې پايلي:

روژه هم د نورو عبادتو په څير د لويو ګټو او ښو پايلو څخه برخمنه ده، ځکه چي روژه ډال دى، لکه څنګه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "الصيامُ جُنّة" يعني روژه ډال دى، همدا روژه د اور څخه هم ډال او سَپَر دى، د اخيرت د عذاب څخه وقايه او پوښ دى، روژه د ګناهونو په مقابل کي ډال دى، ځکه د روژې په نيولو سره د نفس او شهوت قوت کمزورى کيږي، روژه د هغو محرماتو تر منځ يو ديوال دى چي د ځينو نعمتو له لذت څخه رامنځ ته کيږي، لدې کبله رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ، وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ). (صحيح مسلم،كتاب الجَنَّة وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا). ژباړه: (جنت په سختيو او کړاونو کي پټ دى، او جهنم په شهواتو کي پټ دى).

او د مسلم په روايت کي راځي چي جنت ته لار د الله تعالى پر طاعت باندي صبر او د ګناهونو څخه صبر ته ضرورت لري، او جهنم ته لار په شهواتو کي پټه ده.

نو کوم انسان چي لدې ناروا خواهشاتو او شهواتو څخه ليري سو نو ژوند يې سلامت سو ، او کله چي د شهواتو او خواهشاتو و خوا ته مخ کړي نو پايله او انجام يې غم او پښيماني او د دنيا او اخرت ذلت او خواري ده. عبدالله ابن مسعود رضى الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت رانقلوي چي هغه وفرمايل: اې د ځوانانو ټولۍ! د چا که په تاسو کي د نکاح توان وي نو هغه دي ضرور نکاح وکړي، ځکه دا نکاح د سترګو ډېره را بندونکې او د شرمګاه ښه ساتونکې ده، او د چا که د نکاح توان نه وي نو هغه دي روژې ونيسي ځکه دا روژه دده لپاره د خواهشاتو منع کونکې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبي علیه الصلاة والسلام دا خبره واضحه کړل چي کوم انسان د نکاح توان ولري نو هغه دي د خپل نفس او د بل نفس د پاکۍ له کبله د نکاح په کولو کي تیزي وکړي.

خو کله چي د نکاح وس او توان نه لري نو د هغه لپاره نبي کریم صلی الله علیه وسلم د نبوي علاج وړاندیز کړی دی چي هغه روژه ده، ځکه په روژه کښې د نفس د ضعیفوالي له کبله روژه یو حامي او وقایه د ګناهونو څخه وي.

کله چي خانان روژه نیسي نو دوی ته د وږو کسانو احساس پیدا کیږي، نو پدې کار سره د الله تعالی شکر اداء کوي، دا فکر ورسره پیدا کیږي چي دوی داسي دیني ورونه لري چي بیله روژې لوږه تیروي.

## د حج فریضه د مسلمان په ژوند کي:

حج یو لوی عبادت دی، الله تعالی پر خپلو بندګانو په ټول عمر کي یو وار فرض کړی دی، په حج کي ځیني احکام تر مال پوري تعلق لري او ځیني بیا تر بدن پوري تعلق پیدا کوي، چي په ترسره کولو سره یې د مسلمان په ژوند کي ښې او ګټوري پایلي او نتیجې په لاس ورځي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (یوه عمره تر بلي عمرې د ګناهونو کفاره ده، او د قبول سوي حج بدله بیله جنته بل څه نه ده). (البخاري،مسلم).

د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه تر ټولو افضلو اعمالو پوښتنه وسول نو هغه ورته وویل: (پر الله تعالی او د هغه پر رسول ایمان ایمان لرل، بیا یې ورته وویل سول چي ددې څخه وروسته کوم عمل زیات افضل دی؟ وې فرمایل: د الله تعالی په لار کښې جهاد کول، بیا یې ورته وویل سول چي ددې څخه وروسته کوم عمل زیات بهتر دی؟ وې فرمایل: قبول سوی حج). (البخاري، مسلم).

د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (چا که د الله تعالی لپاره داسي حج وکړ چي نه یې شرعي جماع وکړه او نه یې ناروا عمل وکړ نو داسي راستون سو لکه اوس چي خپلي مور زیږولی وي). (البخاري،مسلم).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مقبول حج علامه داده چي د نبي عليه الصلاة والسلام د سنت مطابق وي، او د حج څخه وروسته يې په ژوند کښي نوره هم تقوا او دينداري راغلي وي.

حج او عمره و الله تعالی ته د قرب او نژديوالی لوی سببونه دي، د مثال په ډول طواف؛ طواف داسي عبادت دی چي الله تعالی د کعبې له ځانګړتياؤ څخه ګرځولی دی، يعني دا عبادت يوازي او يوازي د کعبې پر شاوخوا کيدای سي.

دا خبره د يادولو وړ ده چي هر طواف چي د کعبې ماسيوا بل ځای کيږي هغه نامشروع او ناروا عمل دی، لدې کبله پر قبر طواف کول حرام عمل دی.

په همدې توګه د حجر اسود مچول او لمسول، او د رکن يمانی لمسول يو مشروع عمل دی، ددې دوو ځايو ماسيو بل هيڅ چيري د ډبري په مچولو او لمس کولو سره الله عزوجل ته ځان نژدي کول نه دي راغلي او نه الله تعالی دا عمل مشروع ګرځولی دی. لدې کبله کله چي عمر رضی الله عنه حجر اسود مچل کړ نو وې ويل: زه پدې ښه پوهيږم چي ته يوه ډبره يې، نه ضرر رسولای سي او نه ګټه، که ما رسول الله صلی الله عليه وسلم نه وای ليدلی چي ته يې مچولې ما به نه وای مچ کړې، (البخاري، مسلم).

د حج په اداء کولو سره د يو مسلمان په ژوند کښي ښې او ګټوري پايلي او نتيجې په لاس راځي، کله چي حاجي د حج لپاره خپل کالي وکاږي او احرام واغوندی نو پدې حالت کي خان او مسکين يو شان وي، چي ددې لباس په اغوستلو سره يې د کفن لباس وريادیږي، نو د مرګ لپاره په نيکو اعمالو تياری نيسي، لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي: {تَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى}.(البقره:۱۹۷)

ژباړه: د حج د سفر لپاره د لاري توښه درسره واخلئ؛ او تر هر څه ښه د لاري توښه پرهيزګاري ده.

او بيا کله چي حاجيان د عرفې پر ميدان سره يوځای سي نو دا خپله د قيامت د ورځي د دريدولو سره مشابهت پيدا کوي، نو د قيامت د ورځي لپاره په صالحو اعمالو سره ځان تياروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا سي په حج کي د شرق او غرب مسلمانان ملاقات او ليده کاته کوي، پيژندنه يې کيږي او يو او بل ته نصيحتونه کوي، په احوالو ځانونه سره خبروي او په خوشحاليو يې خوشحاله کيږي، دا داسي مثال لري لکه دردونه او کړاونه چي يې سره شريک وي، يو بل ته لارښونه کوي، او د الله تعالی د امر مطابق يو له بله په نيکۍ او تقوا کومک سره کوي.

حاصل د خبري دادی؛ چي دا لوی او عظيم عبادات دي، چي الله تعالی مشروع ګرځولي دي، او خپل حنيف دين يې ورباندي بناء کړی دی، چي په ترسره کولو سره يې د مسلمان په ژوند کي ګټوري او اغيزناکي پايلي په دنيا او اخرت کي لاس ته ورځي.

د الله تعالی څخه سوال کوم چي د هغه اعمالو توفيق را کړي چي الله تعالی ورباندي راضي کيږي، او موږ د هغو کسانو له جملې څخه وګرځوي چي خبره اوري او د ښو خبرو متابعت کوي، او د الله تعالی څخه دا سوال کوم چي موږ د هدايت لوري ته بلونکي مهديين وګرځوي، يقيناً الله تعالی سخاوالا او کريم ذات دی.

وصلَّى الله وسلم وبارك وأنعم على خير أنبيائه ورسله نبيِّنا وإمامنا وسيدنا محمد بن عبد الله، وعلى آله وأصحابه، ومَن سلك سبيلَه واهتدى بهداه، والحمد لله ربّ العالمين، والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

۲۶/۷/۱۴۳۹

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**